

# دمینې لټول

انجنیر ظهورالدین اندیښ

زه مې دمینې لېونی یم ، وریسی ګرځم شاوخوا ئی لټومه
دغبارونو په ګرداب کی ، غوټی وهم ذره ذره ئی ټولومه
هم مې شیطان سره جګړه ده ، په کلې کور راته تاویږي نارام یمه
ما ته دسرو شونډو او پېزوان ستا ښه مه کوه
مه کوه پار جانه دخوبان پو ښتنه مه کوه

په ګړندي ډول عمل دی ستړی ئې کړم ، خو هدفو ته نژدی شومه
کله روان، کله په ز غا سته ، کله لوېدل، کله کړاو ورسره وینه
له لری نژدې راته ښکارېږي چی قدم واخلم اشاری کړي وتښتینه
ماته دسرو شونډو او پېزوان ستا ښه مه کوه
مه کوه پارجانه دخوبان پو ښتنه مه کوه

په منډو تېز وریسی لاړم مخکی خندق وه چټلي ته ګذار شومه
په چټلېو کی تر پېړم ، جګېدل نشته وخت نادودی پر ما کړینه
دوخت له لاسه لېونی یم، کله به ځما ګذار پری وشی چی جګ شمه
ما ته دسرو شونډو اوپېزوان ستاښه مه کوه
مه کوه پارجانه دخوبان پوښتنه مه کوه

دوست اورقیب ته رنګه ښکارم ، ملامت نه دي شیطان تل خپل کار کوینه
شیطان له وخته تو ظیف شوی دغه ئی کار دی مخلو قات را خبروینه
ځما اود شیطا ن مسا بقه ده ،ما پری اوچت کړه دعمرونو ټول بارونه
ماته دسرو شونډو اوپېزوان ستا ینه مه کوه
مه کوه پارجانه دخوبان پو ښتنه مه کوه

وخت نژدی ښکاري حالات نور دي
مینه سترګک راته کوی وړاندی راځینه
په شیطان ټول اجرات وشول
نور مې شړلی دبري په تمه یمه

ماته دسرو شونډو او پېزوان ستا پنه وکوه
وکوه پار جانه دخوبان پو بنتنه وکوه

انجنیر ظهورالدین اندیش
**1.1.2012**

---


**رفقا، دوستان عزیزتارنمای وطندار ! لطفاً نظرات، پیشنهادات، انتقادات، مقاله ها، نوشته ها، مضامین و مطالب علمی و تحلیلی خود را جهتِ نشر به ادرس پوست الکترونیکی سایت بفرستید**

**admin@vatandar.at**

مدیر مسوول : انجنیر هما یوسفی
صاحب امتیاز : انجنیرنجیب یوسفی
کلیه ی حقوق بر اساس قوانین کپی رایت محفوظ و متعلق به «وطندار» می باشد



بازگشت

بقیه گزیده های مقالات فرهنگی فلسفی انجنیر ظهورالدین اندیش کلیک نماید